مرفوع او مضموم تو رو کښې اجرا کیږي .

٤ـ روم : عبارت دی د ځینې برخې د حرکت د تلفظ کولو نه.
ځینې علماء کرام وايي د يې چې حرکت سره نږدې غږ کښلو
څخه عبارت د ه یعنی د اچې د وقف په وخت کښې د وه .
ثلثه د حرکت دی ساقط کړي او يو ثُلث يې تلفظ کړي .

معمولاً روم په ضمه او کسره مرفوع او مجرور ـ
کښې اجرا کیږي .

نوټ :

الف : اصل په وقوفو کښې اسکان
دی .

ب : روم او اشمام په اصلي حرکت اجرا
کیږي .

www.libtool.com.cn

# د وقف علامې

www.libtool.com.cn

د وقف ځایونو ته پاملرنه د تجوید د علم د مهمو برخو څخه شمېرل کېږي .

او د وقف علامې په لاندې ډول دي :

۱- م : د لازم وقف علامه ده .
د وقف د نه کولو څخه په معنیٰ

ـ کښې خلل پيدا کيږي .

۲ـ ط :ـ د مطلق وقف علامه ده .

يعنې وقف کول احسن (ډېرښه) دی ، له دی ځای نه بايد تېر نه شو.

www.libtool.com.cn

۳ـ ج :ـ د جائز (کافی) وقف علامه ده:

په دی ځای کښې وقف او وصل ـ

دواړه روا دي مګر وقف ښه دی.

٤ـ ز :ـ د مجوز وقف (حسن وقف)

علامه ده .

چې وصل او وقف يې جائز مګر

په وصل سره لوستل يې

ښه دي .

۵ ـ ص :ـ د مرخص وقف علامه ده: په ځینو ځایو
کښې چې آیة شریف اوږد وي او نفس د
لوستلو د دوام قدرت ونه لري، کولای
شو چې په دے کلمه باندے وقف
وکړو بیا له دے نه چې لوستل شوے
کلمه بیا تکرار کړو .

٦ـ (لا) د قبیح وقف علامه ده : حُکم په دی
ځای باندی په وقف کولو سره معنیٰ
تغیر کوي . نو ښایئ چې وقف ونکړو .
که چیرې د نفس د نه رسیدلو له امله وقف
وشو نو لازم ده چې د وقف شوي کلمي څخه له سره
شروع وکړي .



www.libtool.com.cn

مګر دا ایاتو په آخر کښې دا حکم نه دی ځکه
(روایت شویدی چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د
www.libtool.com.cn
ایاتو په آخر کښې یې وقف کولو) .

۷- (ﮪ) د معانقه وقف علامه ده: چې په حاشیه
کښې (مع) یا (معا) لیکل شوې وي .
معانقه په لغت کښې غاړه ترغاړه کیدل-
او یو بل سره غېږ په غېږ کیدلو ته وایي ، مګر
په تجوید کښې کله چې دوه وقف څنګ تر
څنګ راغلي وي ، هغه ته معانقه وقف ویل کېږي
او علامه یې د دو وکلمو سر بېره وي .

که چیرې په اوله کلمه کښې وقف وکړي ـ
دوهمه کلمه باید په وصل سره ولوستل شي .
اوکه په دوهمه کلمه کښې وقف وشي اوله کلمه
باید په وصل سره ولوستل شي د مثال په توګه:
لَارَيْبَ ج فِيهِ ۛ هُدًى لِّلْمُتَّقِينَ ۝
۸ ـ «ك» دکَذٰلِكَ په معنیٰ دی یعنی د دے اٰیت
حکم د مخکښینی اٰیت د حکم په شان
دی .
۹ـ «ق» «دقَدْقِيْلَ يا قِيْلَ عَلَيْهِ الْوَقْفُ» علامه ده : دځینو
علماوو په نظر دلته وقف کول جائز دي، خو
وقف نه کول ښه دي .
۱۰ ـ قِلَا : یعني وقف مه کوه .



www.libtool.com.cn

۱۱- (قِف) : يعنې وقف وکړی .

۱۲- (صلی) : يعنې وصل له وقف نه بهتر دی.

۱۳- (صل) : يعنې وصل وکړی .

www.libtool.com.cn

۱۴- (وقفه) : د اوږدې سکتې علامه ده ، او د قرائت د علم په اصطلاح کښې سکته او وقفه سره قريب المعنیٰ دی مګر سکته وصل ته او وقفه وقف ته نژدې وي .

۱۵- س : سکته علامه ده چې غږ بې د تنفس څخه قطع کيږي .

۱۶- ○ : دايره د آيه مطلق علامه ده چېرته چې صرف دا علامه وي ، وقف دې وکړی شي .

که چیري په سر يې (لا) وي، وصل يې هم جائزدي .

۱۷- ۵ : دکوفي آية علامه (ه)، او حکم يې د - دايروي آية د حکم په شان دى .

---

www.libtool.com.cn

# پوښتنې

۱- وقف څه شی دی او ضد یې کوم دی؟
۲- وقف په اسکان د څه شي څخه عبارت دی؟
۳- روم څه شی دے او په کومو حرکاتو کښې راځي؟
٤ - د لازم وقف علامه څه شی دی؟
۵ - د مجوّز وقف علامه څه شے دی؟

www.libtool.com.cn

# د وقف ډولونه

وقف پرېنځه ډوله دی :

www.libtool.com.cn

۱ـ تام وقف

۲ـ حسن وقف

۳ـ کافي وقف

۴ـ قبیح وقف

۵ـ اضطراري وقف

تام وقف : هغه دے چي کلام لفظًا اومعنًا په هغه سره تمامېږي اوله ما بعد سره کوم تعلّق ونه لري.

د مثال په توګه : قُلْ هُوَاللّٰهُ اَحَدٌ ۚ

# د (راء) حکمونه

(راء) دوه حکمونه لري : www.libtool.com.cn تفخیم (ډک لوستل) او ترقیق (نرم لوستل) .

۱- که چیرې (راء) زور یا پیښ ولري، په تفخیم (ډک) لوستل کیږي . لکه : رَجُلٌ ، رُبَمَا .

۲- هرکله چې (راء) زیر ولري ، نو ترقیق (باریک) لوستل کیږي .

مثال : رِجَالٌ ، بِالْبِرِّ .

۳- هرکله که (راء) ساکن او مخکښې توری یې زور لرونکی (مفتوح) یا پیش لرونکی (مضموم) وي نو

حسن وقف :- هغه دے چي کلام د معنیٰ

له حيثه تمام مکرد لفظ په

لحاظ له ما بعد سره ارتباط ولري

وقف په هغه بنه دی،

مکرا حسن. (ډير ښه) وصل

د ما بعد سره دی .

د مثال په توګه ، اَلْحَمْدُلِلّٰهِ چي

وقف د ، لِلّٰهِ پر کلمه باندے

حسن (ښه) دی ، مکروصل

د ، اَلْحَمْدُلِلّٰهِ ، د ، رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ،

سره احسن ، (ډير ښه ) دی.

کافي وقف :- هغه دے چي کلام د لفظ

www.libtool.com.cn

د حيثه تمام او د معنیٰ په لحاظ له ما بعد سره -
تعلّق ولري ، چې وقف پر هغه کافي اوبنه دی .
لکه وقف پر (مِنْ قَبْلِكَ) په مبارك ايه د -
(وَالَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ وَمَآ اُنْزِلَ
مِنْ قَبْلِكَ ج وَبِالْاٰخِرَةِ هُمْ يُوْقِنُوْنَ ٥ ) کښې چې
په دے ځای کښې وقف کافی اوبنه دے .

قبيح وقف :- هغه دے چې کلام د معنیٰ او
لفظ له حيثه له ما بعد سره ټينګ اوکلك تعلّق -
ولري ، او د وقف په سبب د مبارك اٰية په معنیٰ
کښي فاحش تغير واقع شي د مثال په توګه وقف د :
(وَالْاِنْسَ) پر کلمه باندے د (وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ
وَالْاِنْسَ) په مبارك اٰية کښې .

www.libtool.com.cn

اضطراري وقف ، هغه دے چي لوستونکی د
نفس تنګی یا نورو له امله وقف ته
ضرورت پیدا کېږي ، په دے صورت
کښي هغه ته وقف جایز دی . مګر
هڅه دے وشي چي پر هغه کلمه باندې
وقف وشي چي د معنیٰ فساد واقع
نشي ، او پس د وقف څخه د یوې ماقبلي
مناسبي کلمي څخه شروع وکړي .
لکه د ضرورت په وخت کښي وقف د
( اَلْفَحْشَاءِ ) په کلمه باندے د ( وَيَنْهٰى عَنِ
الْفَحْشَآءِ ) په مبارك اٰیه کښي چي لوستونکي
دے وروسته د اضطرار د لیرې کېدلو

www.libtool.com.cn

څخه مبارك اٰيته د سره نه شروع کړي او

ودې لولي .

﴿ وَيَنۡهٰى عَنِ الۡفَحۡشَآءِ وَالۡمُنۡكَرِ وَالۡبَغۡىِ ج ﴾

www.libtool.com.cn

---

# پوښتنې

۱ـ وقف په څو ډوله دی ، د هر یوه نوم واخلئ ؟

۲ـ کافي وقف تعریف او د مثال سره یې بیان کړئ ؟

۳ـ قبیح وقف تعریف کړئ ؟

٤ـ د اضطراري وقف نه وروسته دې د کوم ځای نه شروع وکړي؟

www.libtool.com.cn

# وقف په حرکت او وصل په سکون

www.libtool.com.cn

یو د هغو حالاتو چې د وقف په وخت کښې د توجّه وړ دي وقف په حرکت او وصل په سکون دی، چې د تجوید د علماوو په نظر دا دوه ډوله وقف جائز نه دي:

۱ـ وقف په حرکت:ـ هغه دي چې د وقف په وخت بېله دې نه چې د کلمې آخر حرکت له منځه ولاړ شي، صَوت (غږ) قطع شي او د نفس د تازه کولو نه

پس روستی کلمه ولوستل شي لکه ؛
﴿ مٰلِكِ يَوۡمِ الدِّيۡنِ ﴾ بيله دے نه چي نون ساکن شي ، د نفس د تازه کيدو وروسته د ﴿ اِيَّاكَ نَعۡبُدُ ﴾ مبارك اٰية ولولي .
وصل په سکون : هغه دی چي د وقف په وخت کښي د کلمي حرکت ساقط کړي اوبيله دي نه چي نفس تازه کړي سمدستي روستی کلمه ولولی لکه ﴿ مٰلِكِ يَوۡمِ الدِّيۡنِ ﴾ چي نون ساکن کړي ، اوبيله د ي چي نفس تازه کړي د ﴿ اِيَّاكَ نَعۡبُدُ ﴾ مبارك اٰية ورسره وصل کړي.

www.libtool.com.cn

# پوښتنې

۱ـ وقف په حرکت تعریف کړئ ؟

۲ـ آیا وصل په سکون جائز دے ؟

www.libtool.com.cn

---

# قطني نون

که چیرې پس له تنوین څخه داسې کلمه راشي چې اول یې د وصل همزه وي .

د وصل په حالت کښې تنوین په مکسور نون باندے بدلیږي چې همدې نون ته قطني نون وايي او په قرآن کریم کښی د واړه (ن)

www.libtool.com.cn

په شکل لیکل کیږي .

مثال : عَلِيمُنِ الَّذِی ، شِيۡبًا نِ السَّمَآءُ -

هُمَزَةِ نِ الَّذِی .

www.libtool.com.cn

په پورتنیو مثالونو کښي د عَلِيمٌ کلمې د وصل په حالت کښي يې تنوين په مکسوره - نون بدل شوی دی ، او همدارنګه د نورو کلماتو تنوینونه په قطني نون بدل شوی دی مګر د وقف په صورت کښي قطني نون ته ضرورت نشته

---

ږك لوستل كېږي . مثلاً : مَرْيَمَ ، مُرْجَوْنَ

٤ـ كه چيرې (راء) ساكن او مخكښې توری زبـــر لرونكی (مكسور) ـوی (راء) نری لوستل كېږي په دې شرط چې كسره اصلي وي او پس له (راء) نه مفتوح توری د استعلاء د تورو څخه نـه وي . لكه : (راء) په (فِرْعَوْنَ ، وَاسْتَغْفِرْهُ) كښې .

٥ ـ كه چيرې (راء) ساكن او ما قبل يې مكسـور وي مكر وروسته د هغې د استعلاء يو مفتوح توری وي ، نو ږك لوستل كېږي لكه (راء) پـه لَبِالْمِرْصَادِ ، فِرْقَةٌ ، قِرْطَاسٍ كښې مكر په (كُلُّ فِرْقٍ) كښې د (ق) د استعلاء د

# پوښتنې

۱ـ دوه مبارك آیاتونه چې په هغې كښې نون قُطنې راغلی وي ،وښایاست؟

www.libtool.com.cn

۲ـ آیا د وقف په صورت كښې قُطنې نون ته ضرورت شته ؟

---

# د تورو ځينې صفات

۱ـ قلقله :ـ په لغت کښې ټکان او ښوريدلو ته وايي ، او په اصطلاح کښې ټکان ورکول د حرف ساکن دے په خپل مخرج کښې .

د قلقلې توري پنځه دي چې مجموعه يې ( قُطْبُ جَدٍ ) دي لکه :

ابواب ، خلّاق ، مجيد ، محيط ، بهيج

مګر په قاف کښې قلقله واجب او په نورو څلورو تورو کښې جايز ده ، او د تجويد د ځينو علماوو په نظر د قلقلې په ټولو تورو کښې

www.libtool.com.cn

چې ساکن وي قلقله واجب ده .

۲- صفير: هغه غږ دے چې د ثنايا غاښونو او ژبې د منځ څخه را وځي ، او درې توري (صاد ، سين او زا) نوموړي صفت لري .

www.libtool.com.cn

۳- لين :- په لغت کښې د نرمۍ په معنیٰ دے او دوه توري (واو ، يا) چې ساکن او ماقبل يې مفتوح وي ، د لين توري بلل کيږي ځکه چې په نرمۍ سره تلفظ کيږي .

٤- انحراف :- په لغت کښې ميل کولو ته وايي ،

دوه توري (راء ـ او ـ لام) چي د اداء کولو په
وخت کښي يې ژبه د تالو خوانته ميل کوي،
منحرفه توری بلل کيږي .
www.libtool.com.cn
٥ـ تکرير :ـ دوباره لوستل او تکرار کولو څخه
عبارت دی ، او (را) توري
دا صفت لري .
٦ـ تَفَشّي : د تيت او شيندل شوي معنیٰ
ورکوي . د شين توری دد
صفت لرونکی دی ، ځکه چي
د هغه د ادا کولو په وخت کښي غږ په خوله
کښي تيت او منتشر کيږي .
٧ـ استطاله :ـ د غزيدل شوی په معنیٰ ده او د

(ضاد) توری دا صفت لري .
باید وویل شي هغه صفتونه چې مخکې
د ذکر شول یو د بل سره متضاد نه
دي او ضدیّت نه لري .
www.libtool.com.cn
۸ـ اذلاق : د ګړندیتوب او تیزی په معنیٰ دی
او شپږ توري ( باء ، راء ، فاء ، لام ـ
میم او نون ) د مذلقي په نوم یادیږي ،
ځکه چې په ګړندیتوب سره اداکیږي .
۹ـ اصمات :ـ په معنیٰ د چپتیا او سکوت دی ،
او د اذلاق ضد دی نو د مذلقي د تورونه پرته
نور ټول توری مصمته دی .

## پوښتنې

۱ـ قلقله تعریف کړی ؟

www.libtool.com.cn

۲ـ په لاندینی مبارك اٰیة کښې د صفیر توری ـ وښایاست ؟!

فَإِذَا نُفِخَ فِي الصُّورِ فَلَا أَنسَابَ بَيْنَهُمْ يَوْمَئِذٍ وَلَا يَتَسَاءَلُونَ ۝

۳ـ لین په لغت کښې څه معنیٰ لري ، او د لین توری کوم دی ؟

٤ـ کوم توري د تفشّي صفت لري ؟

۵ـ په لاندینی مبارك اٰیت کښې کوم توري د ـ استطالي صفت لري ؟

غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّآلِّيْنَ ۝

سورهٔ فاتحه ایهٔ ع۔۷

www.libtool.com.cn

۶۔ مذلقی تورونه ولي مذلقه تورى وايي ؟

# د ضمير (ها) اشباع او د هغې نه اشباع

www.libtool.com.cn

اشباع په لغت کښې مړول او د تجويد د علم په اصطلاح کښې د توري د حرکت ډېر لوستلو څخه عبارت دی . په داسې ډول چې په ضمّه کښې د (واو) او په کسره کښې د (ياء) په شکل ادا شي . لکه : (مَالَهُ) چې د (مَالَهُوْ) او (سَمْعِهِ) د (سَمْعِهِیْ) په شکل ادا کېږي .

که چېرې د ضمير هاء مضمومه وي د -

اشباع په حالت کښې د (واو) په شکل ، او که چېرې د ضمیر هاء مکسوره وي ، د (یاء) په شکل تلفظ کېږي .

www.libtool.com.cn

که چېرې ما بعد یا ما قبل د ضمیر د (هاء) ساکن وي ، په اشباع سره نه لوستل کېږي لکه : مِنْهُ ، وَيُعَلِّمُهُ الْكِتَبَ ، مګر په (فِيهِ مُهَانًا) مبارك ايت کښې ضمیر هاء د اشباع په طـــریق لوستل کېږي .

د ا ( ُ ) د ضمی د اشباع علامه او دا ( ِ ) د کسرې د اشباع علامه ( ٰ ) د فتحې د اشباع علامه ده .

ARIC
6.921
1368
132

www.libtool.com.cn

دریمه طبع

دچاپ کال سنبله ۱۳٦۸ ، دچاپ شمیر(۲۰۰۰۰)

دتعلیمی مرکز دنصاب مدیریت

# پوښتنې

www.libtool.com.cn

۱- په لاندې مبارکو آیاتو کښې هغه (هاء) چې په
کښې اشباع کېږي وښایئ ؟ !

قَالَ نُوحٌ رَّبِّ إِنَّهُمْ عَصَوْنِي وَاتَّبَعُوا مَن لَّمْ يَزِدْهُ ۝
مَالُهُ وَوَلَدُهُ إِلَّا خَسَارًا ۝

سورة نوح آية ۲۱

يَوْمَ يَفِرُّ الْمَرْءُ مِنْ أَخِيهِ ۝ وَأُمِّهِ وَأَبِيهِ ۝ وَصَاحِبَتِهِ
وَبَنِيهِ ۝

سورة عبس

توري د کسرې په خاطر د تجويد د علم ځينې عالمانو ئې تفخيـيم بنه بولي او بعضې ئې ترقيق .

٦- که چيرې (راء) ساکن او ما قبل يې په عارضي کسره سره مکسور وي نو ډک لوستل کيږي ، لکه (راء) په (اَمِ ارْتَابُوْا) او (لِمَنِ ارْتَضٰى) کښې .

٧- په هغه صورت کښې چې (راء) د وقـف په وسيله ساکنه شي او ما قبل يې هـم ساکن وي . په دې حالت کښې د دريم توري حرکت (د راء د مخکښې نه د مخکښنۍ توري حرکت) اعتبار لـري که چيرې مفتوح يا مضموم وي نو ډک لوسـتل کيږي . لکه (راء) په (خُسْرٍ) او (بِالصَّبْرِ) کښې .

www.libtool.com.cn

اوکه چېرې مکسور وي نرې لوستل-
کېږي لکه «راء» په السِّحْرَ کښې.
۸- که چېرې «راء» ساکن او مخکښې له هغې نه
ساکنه «یا» وي نرۍ لوستل کېږي. که
څه هم «یا» ما قبل مفتوح وي، دمثال
په توګه «راء» په خَیْرٌ، سَیْرٌ د وقف په
حالت کښې.

www.libtool.com.cn

# پوښتنې

۱- «راء» څو حرکتونه لري ؟

www.libtool.com.cn

۲- په لاندنیو کلموکښې په کومه «راء» کښې ترقیق او په کومه «راء» کښې تفخیم دی ؟-
ترهغه «راء» لاندې چې په تفخیم لوستل کیږی خط او ترهغه «راء» لاندې چې په ترقیق ادا کیږي دایره وکاږی :

مُرجُونَ ، قِرطَاسٍ ، رِجَالٌ ، رَسُولٌ

۳- د فاتحې سورة ولولئ او ووائې چې په کومه کلمه کښې «راء» په تفخیم او په کومه کلمه کښې په ترقیق اداء کیږي ؟

# د الله (جَلَّ جَلَالُهُ) د (ل) د توري تفخيم او ترقيق

www.libtool.com.cn

الف ـ که چیرې د الله (جَلَّ جَلَالُهُ) د لفظ څخه مخکې مفتوح یا مضموم وي، مفخم (پړک) لوستل کیږي لکه (ل) په مِنَ اللهِ ونَصُرُاللهِ کښې.

ب: ـ که چیرې د الله (جَلَّ جَلَالُهُ) د لفظ څخه مخکښې توری مکسوروي په ترقیق (نری) لوستل کیږي د مثال په توګه: بِاللهِ لِلهِ، بِسْمِ اللهِ کښې.

# وقف

وقف په لغت کښې د خبرې کولو په ترخ کښې د ریدلو او لږ څه ځنډه کولو ته وایي ، او د - تجوید د علم په اصطلاح کښې د کلمې وروستی توری ساکن کول دي چې د نفس او غږ پرېکړه ورسره کیږي .

او د وقف او وصل منځني حالت ته سکته - وایي .

د وقف په وخت کښې نفس او غږ دواړه پرې کیږي ، او نفس تازه کیږي . مګر د وصل په وخت کښې نفس او غږ نه قطع کیږي ، او نفس نه تازه کیږي .

www.libtool.com.cn

د غزا و اعراب قطعي ته بې له قطعې د نفس نه سکته ویل کیږي .

www.libtool.com.cn

## د وقف په حال اړوکښې بدلون

۱ـ وقف په اسکان عبارت دی د ساکنولو د کلمو نه چې حرکت ولري لکه: ( ک ) په ( فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ ) کښې چې ( كَ ) زورلري په حالت د وقف کښې ( بِحَمْدِ رَبِّكْ ) لوستل کیږي .

۲ـ وقف په ابدال : عبارت دی

له تبد یلولو د (تاء) تاً نیث په (ها) سره
لکه : صلوٰة چې د وقف په حالت کښې (صلوٰه)
تلفظ کیږي .
او تبد یلول د تنوین په الف سره لکه : رَحِیْمًا
او شَکُوْرًا چې د وقف په حالت کښې رَحِیْما
او شَکُوْرا لوستل کیږي .
۳ ـ وقف د اشمام سره : اشمام د تجوید په
علم کښې عبارت د ی د توری د ساکن کولو څخه د وقف په ـ
حالت کښې او اشاره ورکول د شونډو دي د پیښ طرف ته لکه په آخر کې
(ن) د (نَسْتَعِیْنُ) کښې چې د وقف په
وخت کښې شونډې پرې را ټولیږي او د ضمّه
لوري ته بې له غږ نه اشاره کیږي . او اشمام په

www.libtool.com.cn

د اسلامي سنوونی امکانات د خدای (ج) په لطف د اسي برابر کړه چه . د رب الارباب د رضاد

حصول په لیاړکي به هيڅ دول قدرت زمونږ د مقدسي او تينګي هيلي مخي خنډ کيد لای نشي .

د بی هدف کمونيزم ټول وحشيانه او غیرانساني کړنه لکه عامه وژنه ، ژوندی بنخول ،

چور او چپاول ، د کورونو او د کرهنی محصولات په اورکي سيزل د شريفو او مقدسو مساجدو

او متبرکو اماکنو ويجاړول ، د زهرلرونکو ګازونو استعمالول ، د روغجن او سمسوم پروپاګند

www.libtool.com.cn

زمونږ پرګران هيواد افغانستان کي فقط او فقط زمونږ د تصميم نيولو د کړنلاري کله ناکله د

تأخير د يرسپک علت د ی او بس .

د افغانستان مسلمان ملت چه د حبل المتين متمسکين او د آسماني ارشاداتو ممثلين د ی .

د دوی د قهر او نفرت سيلاب ځپانده شو . او د پاک خدای (ج) د وينا سره سم چه فرمايي وجاهدوا

في الله حق جهاده ۷۸ آيه د حج سورة ) يعنې جهاد وکړی د خدای (ج) په لارکي د خدای (ج) حق جهاد .

نو ځکه د اسلام د عالي تعاليمو ارشاداتو په رڼاکي لحق جهاد ته ادامه ورکوو ترڅو چه د اسلامي

پوهي بله د يوه د علمي او مسلحانه جهاد په درشل کي تقويت کړو .

ګرانو شاګردانو ! ځرنګه چه تاسو ته څرګنده ده . چه د اسلام د عرفان زده کونکو د دوو دولو

درسي کتابونه چه په ځوانيوا تما د وپوړی مربوط وي استفاده کوله .

د جهادی تنظيمونو محترمو رهبرانو د زده کونکو د افکارو د تشتت د مخنيوی په منظور

پدی ورروستيوکي خپلي روزني او سنووني مسؤليتونه صلاحيت او صلاحيت ورکړو چه د ټولو مضامينو

او علوموکوم چه په تعليمي نصاب کي د ی يو د ول کتابونه چاپ او د مجاهدينو او مهاجرينو د زامنو

د استفادی د پاره يي برابرکړي . چه د محتوا او مفهوم له نظره د اسلام د مقدس دين محمدی (ص)

غرا شریعت، او د حنفي مذهب ضامن او ساتندوی وي. او د مجاهدینو او مسلمانو مهاجرینو د ټولو اقشارو د تائید وړ وي.

نوېد پر اساس د ښوونې او روزنې د هم آهنګۍ عالي شورې چه د ټولو محترمو رهبرانو د تائید له مخې تاسیس شوه. چه د ښوونې او روزنې هم آهنګي عالي شورې دافغانستان د تعلیمي مرکزاداره تاسیس کړه. چه نوموړې مرکز په څو ها مو شعبو ولکه: د تعلیمي نصاب مدیریت، د نظارت او تدریسي مدیریت، د پلان او خارجي ارتباط مدیریت، د اجرائي مدیریت، مالي مدیریت، د ښوونې او روزنې مدیریت، د سواد او زده کړې مدیریت شامل دي.

د دې مرکز منسوبین د ټولو تنظیمونو د ښوونې او روزنې متخصصین او مجرب اشخاص دي چه ټول غړي ئې په مجدانه او متحدانه ډول سره د اسلامي ښوونې او روزنې د تحکیم او تعلیمي نصاب د توحید د پاره کار کوي.

پس له محنت او مشورې نه د تعلیمي نصاب متخصصین د دیني مضامینو د کتابونو د تهیې په باب کې دې نتیجې ته ورسیدل چه د جهادي سختو شرایطو او د کافي وخت د نه موندلو له امله اوس اوس د دوو پخوانیو اتحادونو دیني کتابونه ئې سره پرتله کړه او هغه عناوین او مضامین چه د زماني د مشکلاتو په نظر کې نیولو سره د اسلام او جهاد کتمندوی و، وتاکل.

نو ځکه د تعلیمي نصاب مدیریت و یاړي چه هسې وخت او بخت ئې پیدا کړ تر څو چه د دواړو جهادي اتحادونو د دیني مضامینو مختلفه کتابونه چه د مختلفو نصابونو له خوا طبع شوي وو، سره پرتله کړي او هغه مطالب او عناوین ئې وتاکل چه د اسلام مقدس دین د ښوونې او روزنې له نقطه نظره د زده کړې وړ او د زده کوونکو د پوهې د سطحې سره سمون لري او د جهادي شرایطو سره موافق وي انتخاب او چاپ کړي.
ومن الله التوفیق.



www.libtool.com.cn

# د شپږم ټولګي د تجويد کتاب د مضامينو فهرست

www.libtool.com.cn



| ګڼه | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| ١ | د (راء) حکمونه | ١ |
| ٢ | د الله (ج)، د (ل)، د توري تفخيم او ترقيق | ٦ |
| ٣ | وقف | ٧ |
| ٤ | د وقف په حالاتو کښي بدلون | ٨ |
| ٥ | د وقف علامې | ١١ |
| ٦ | د وقف ډولونه | ١٨ |
| ٧ | وقف په حرکت او وصل په سکون | ٢٣ |
| ٨ | قُطني نون | ٢٥ |
| ٩ | د تورو ځيني صفات | ٢٧ |
| ١٠ | د ضمير (هاء) اشباع او د هغې نه اشباع | ٣٢ |

# دافغانستان د تعلیمي مرکز د نصاب
# اهداف

عمومي هدف:

د ټولو جهادي تنظیمونو د تعلیمي نصاب د انکشاف اداره د یو متوازن او جامع اسلامي ښوونې او روزنې مخ ته راوړل چې د هر ډول باطل پرستۍ او بدعتونو ضد وي . همدا رنګه د اسلامي کُلي قوانینو او مفاهیمو استحکام د افغانستان په اسلامي ټولنه کښې غواړي .

www.libtool.com.cn

خصوصي هدف:

د اسلام سپاهیان او د حقیقت لارې تلونکو ته دیو والي او وحدانیت لار ښوونه کوي ترڅو چې دوي په مستحکم او دایمي توګه د عالي او معقولو اسلامي سننو او قوانینو متمسک وي .

دا نصاب د اسلامي ښوونې او سواد « د جهادي ، فرهنګي ، فلسفي ، اقتصاد تخنیکي ، مدني ، معیشتي شرایطو په نظر کې نیولو سره » ضامن دی .

چې په عین وخت کې د نه شلیدونکي پیوستون ممثل او اتصالات د اسلامي نړۍ سره وي او د اسلامي مقدسو حقایقو مبین وي .

آخري هدف:

د کلمة الله او چتوالی ، د اسلام د شان او عظمت ښودل نړیوالو ته ، د کفر او کمونیزم اضمحلال ، په افغانستان او نړۍ کې د سپیڅلي قرآن د اصولو او قوانینو او د محمدي (ص) غرا شریعت د حنفي فقه په اساس خاص د خدای د رضا د حاصلیدلو په نیت د زماني د طاغوتیانو سره مبارزه د دې تعلیمي نصاب آخري مرام دی .

دافغانستان دمجاهدینو اسلامي اتحاد

www.libtool.com.cn

دافغانستان تعلیمي مرکز

دنصاب مدیریت

# تجوید

دشپږم ټولګي لپاره

مؤلف : مولوي غلام عیسی

www.libtool.com.cn



www.libtool.com.cn

# تجوید

## د شپږم ټولګي لپاره

مؤلف : مولوی غلام عیسیٰ

www.libtool.com.cn

بسم الله الرحمن الرحيم

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

رَبِّ زِدۡنِيۡ عِلۡمًا

www.libtool.com.cn

قَالَ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ

حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی.

رَضِيۡتُ

خوښ یم

بِاللّٰهِ رَبًّا

چه الله مو رب دی.

وَبِالۡاِسۡلَامِ دِيۡنًا

او اسلام مو دین دی.

وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا وَّرَسُوۡلًا

او محمد صلی الله علیه وسلم مو رسول ونبی دی.

الحمد لله رب العلمين والصلوٰة والسلام على نبيه الامى الامين

بسم الله الرحمن الرحيم

www.libtool.com.cn

يرفع الله الذين آمنوا منكم والذين اوتوا العلم درجات ○

ترجمه : خداى (ج) لوړوى دايمان لرونكو درجې له تاسو نه اوله هغو كسانو نه چه پوهه ئې ورپه برخه كړيده .

دآيه كريمې څخه استنباطيږي چه هيڅ ډول حسنه عمل څرګند او بارز كيفيات ترپوهې وجود نلري .

داسلام په مقدس دين كې دپوهې او علم اهميت تردې اندازې لوړ دى چه آسمانى وحې د « اقراء باسم ربك الذى خلق » په مبارك آيت شروع شوى ده .

نو پدې اساس د وحې پالنې موضوع او د اسلامي تفكر روزنه ، اقتصاد ، سياست ، عبادات ، اخلاقيات ، بشري حقوق د قرآني ښوونې او روزنې په ترڅ كې داسى وجيبه ده چه دټولو وجايبو او مسائلو په سرشل او ترڅ كې ترټولو نه په لومړي قطار كې موقعيت لري .

مونږ د وحدانيت دلارې لاره تلونكى د هجرت په دېرو ناورو او سختو شرايطو كې